د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د کیفیت د تضمین او اعتبارورکولو ریاست

د پوهنتونونو د کیفیت د تضمین آمریت

# د اعتبارورکولو پروسې ته د شاملېدو لارښود

۱٤۰٤

فهرست


پیلیزه ... ۳

لومړی برخه عمومي معلومات ... ٤

**۱,۱. پېژندنه ... 4**

**۱,۲. ددې لارښود موخې ... ٤**

**۱,۳. اصطلاحات ... ٤**

**۱,٤. د نوم لنډیز: ... ٤**

**۱,٥. د پلي کېدو ساحه: ... ٤**

ملاتړ او ورتیا لورونه ... ٥

**۲,۱ ښوونیز ورکشاپونه: ... ٥**

۲,۲ .د ورکشاپ د وړاندې کوونکي پلاوي جوړښت ... ٥

**۲,۳د ورکشاپ موده: ... ٥**

**۲.٤ د مشورتي لیدنې پلاوي جوړښت ... ٥**

**۲,٥د مشورتي لیدنې موده: ... ٥**

**۲.٦ د مشورتي لیدنې پروسه ... ٥**

د اعتبار ورکولو پروسه کې شاملېدل ... ٦

**۳,۱. د اعتبار اخیستلو د غوښتنلیک شرایط ... ٦**

**۳,۲. د غوښتنلیک او مسؤلیت رفع کولو فورم تحلیل او بشپړول ... ٦**

**۳,٤. د ځان ارزونې پروسه ... ٦**

**۳,٥. د ریاست لخوا د پوهنتون د ځان ارزونې راپور د ترسراوي مرحلې ... ٧**

د جامعې، پوهنتون او برنامې د چمتوالي څخه لیدنه ... ٧

**۴/۱ . د چمتوالي څخه د لیدنې پروسه او نومړې: ... ٧**

**۴/۲ د چمتوالي څخه د لیدنې پلاوي جوړښت ... ۸**

**۴.۳. د چمتوالي څخه د لیدنې موده: ... ۸**



Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

پیلیزه

**الحمد لله رب العالمین و الصلوة والسلام علی سید المرسلین محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین**

په ننني نړۍ کې د کیفیت د تضـــمین او اعتبار ورکول د ودې او پایداره پرمختګ له اســـاســـي برخې څخه ګڼل کېږي. د همدې موخې لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو ریاست د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې رامنځته شوی، تر څو د لوړو زده کړو له کیفیت څخه ډاډ ترلاسه کړي.

له همدې امله دا لارښـود د یو بشـپړ او روښـانه چوکاټ د جوړولو په هدف ترتیب شـوی، تر څو د ریاسـت، دیني جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو دندې، صلاحیتونه او مسـؤلیتونه په روښـانه ډول وټاکي او د اعتبار ورکولو د پروسې اصـول تشـریح کړي. دغه لارښـود د یوې ارزښـــتناکې کاري وســـیلې په توګه د معیارونو د پلي کیدو لپاره لاره هواروي، تر څو دیني جامعات، پوهنتونونه او علمي برنامې د خپلو خدمتونو د کیفیت په ډاډمن کولو سره د لوړو زده کړو په برخه کې د اعتبار او عامه باور د لوړاوي لامل وګرځي.

دا لارښـود په څلورو اصلي برخو کې ترتیب شـوی، چې هره برخه یې د کیفیت د تضـمین له ځانګړو اړخونو سـره تړاو لري او په تولیز ډول د کیفیت اړوند پروسـو بشپړ انځور وړاندې کوي: لومړی برخه: د لارښـود موخې او اصطلاحات دویمه برخه: د جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو د ملاتړ او وړتیا لوړونې موضـــوعات. دریمه برخه: د جامعې، پوهنتون او برنامې اعتبار ورکولو مرحلې ته د شـــمولیت، غوښـــتنلیک او ځان‌ارزونې پروسه څلورمه برخه: د چمتوالي څخه د لیدنې اړوند مسایل رانغاړي.

**د پوهنتونونو د کیفیت د تضمین آمریت:** دا آمریت د خپلو کارونو په درشل کې د مسؤلیت رفع کولو د فورمو بشپړولو، د ځان ارزونې او کتنې ځار راپورونو تحلیلولو، د کړنو او چمتوالي څخه د لیدلو، دیني جامعاتو/ پوهنتونونو/علمي برنامو لپاره د روزنیزو ورکشاپونو جوړولو دندې پر غاړه لري.

# لومړۍ برخه

## عمومي معلومات

منظور د ترتیب څخه:

### ۱،۱. ددې لارښود موخې

دا لارښود لاندې موخو ته د رسېدو لپاره جوړشوی:

د ملي او نړیوالو منل شویو معیارونو سره سم د دیني جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو د معیاري کولو په موخه د مشورتي او چمتوالي څخه د لیدنو چارو تنظیمول.

۱.۱.۱. دیني جامعاتو، پوهنتونونو او علمي برنامو ته د کیفیت لوړاوي په موخه د ښوونیز ورکشاپونو دایرولو چارې تنظیمول.

۱.۱.۲. دیني جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو لپاره د اعتبار ورکولو په برخه کې ځانګړي فرصتونه او آسانتیاوې برابرول؛

۱.۱.۳. دیني جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو د ځان ارزونې، کلني ځار او اعتباراخیستلو پروسې ته د شمولیت چارو تنظیمول.

### ۱،۲. اصطلاحات

په دې لارښود کې اصطلاحګانې لاندې معناوې افاده کوي:

۱.۲.۱. **نوماند کېدل**: هغه پړاو دی، چې دیني جامعات، پوهنتون او برنامه پکې د ځانګړو شرایطو په پام کې نیولو سره د اعتبار ورکولو پروسې ته شاملېږي؛

۱.۲.۲. **د کیفیت تضمین**: هغه پروسه ده، چې په دیني جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو کې د ټاکل شویو معیارونو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کوي.

۱،۲،۳. **علمي برنامه**: هغه علمي واحد دی چې په بشپړولوسره یې یو مشخص سند ورکول کېږي.

۱،۲،٤. **ځان ارزونه**: ځان ارزونه هغه پروسه ده، چې جامعه، پوهنتون او برنامه د ټاکل شویو معیارونو او شاخصونو پر اساس د خپلو تر سره شویو فعالیتونو کچه ارزوي او راپور یې د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو ریاست سره شریکوي.

۱.۲.۵. **مشورتي لیدنه**: هغه پروسه ده، چې جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو ته د ټاکل شویو معیارونو په نظر کې نیولو سره د تطبیق د څرنګوالي په اړه مشوره ورکوي.

۱.۲.٦. **د چمتوالي څخه لیدنه**: هغه پروسه ده، چې د نهایي لیدنې څخه مخکې تر سره کېږي تر څو ډاډ تر لاسه شي، چې پوهنتون د اعتبار تر لاسه کولو(نهایي لیدنې) لپاره چمتوالی لري.

### ۱،۳. د نوم لنډیز:

۱.۳.۱. د کیفیت د تضمین او اعتبارورکولو ریاست وروسته په دې لارښود کې د ریاست په نوم یادیږي؛

۱.۳.۲. د پوهنتونونو علمي برنامې وروسته په دې لارښود کې د برنامې په نوم یادیږي؛

۱.۳.۳. **پوهنتون**: (امارتي او خصوصي) پوهنتونونه پکې شامل دي.

### ۱،٤. د پلي کېدو ساحه:

دا لارښود د لوړو زده کړو وزارت اړوند دیني جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو کې د تطبیق وړ دی.

Directorate of Quality assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

## دوهمه برخه

### ملاتړ او ورتیا لورونه

ریاست ژمن دی، چې د ښوونیزو ورکشاپونو په برابرولو سره د ظرفیت لوړولو او اعتبار ترلاسه کولو په برخه کې د مشورو په ورکولو سره د جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو ستونزې حل کړي.

۲,۱ ښوونیز ورکشاپونه:

د جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو رهبرۍ، علمي کادر غړو او اداري کارکونکو ته د ظرفیت لوړونې په موخه د ښوونیزو ورکشاپونو دایرول.

۲,۲ .د ورکشاپ د وراندې کوونکې پلاوي جوړښت

۲.۲.۱. د ورکشاپ وراندې کوونکې پلاوی د ریاست له خوا تعین او د بورډ له خوا تائیدیږي؛

۲.۲.۲. د ورکشاپ د وراندې کوونکې پلاوي شمېر حد اقل درې تنه ټاکل کېږي؛

۲,۳ د ورکشاپ موده:

۲.۳.۱. په جامعاتو او پوهنتونونو کې د ورکشاپ وراندې کولو موده حد اقل درې ورځې په پام کې نیول کېږي.

۲.۳.۲. په پورته ذکر شوی(۱)شمېره کې ولایاتو ته د تګ راتګ ورځې نه شاملېږي.

۲.٤ د مشورتي لیدنې پروسه

د مشورتي لیدنې پروسه د ریاست د کلني عملیاتي پلان له مخې تر سره کیږي. جامعې او پوهنتون ته د معیارونو سره سم لازمي مشورې او سپارښتنې ورکوي، تر څو شته ستونزو ته د حل لارې پیدا کړي.

۲.٥ د مشورتي لیدنې پلاوی

۲.٥.۱ مشورتي لیدنې پلاوی د ریاست لخوا ټاکل کېږي؛

۲.٥.۲ د مشورتي لیدنې پلاوی له دوه څخه تر پینځو تنو پورې ټاکل کېږي.

.۲ ٦ د مشورتي لیدنې موده( دیدار مشورتی)

د مشورتي لیدنې او د راپور لیکلو موده د پوهنتون تشکیلاتي جوړښت او کاري حجم ته په کتو سره ټاکل کېږي:

۲.٦.۱. د مشورتي لیدنې موده له یوې څخه تر څلورو ورځو پورې ټاکل کېږي؛

۲.٦.۲. د مشورتي لیدنې راپور لیکلو موده له یوې څخه تر دوو ورځو پورې ټاکل کېږي او پلاوی په ټاکلي موده کې راپور بشپړ او ریاست ته یې سپاري؛

۲.٦.۳. په پورته ذکر شویو(۱ او ۲) شمېره کې ولایاتو ته د تګ راتګ ورځې نه شاملېږي.

۲.٦.٤. د مشورتي لیدنې پایلو وروستی راپور د ریاست له تایید وروسته په رسمي دول اروند جامعې او پوهنتون ته استول کېږي.

۲،٦،٥. اړوند جامعه او پوهنتون د پایلو د ترلاسه کولو وروسته په لسو کاري ورځو کې د خپل راپور کمزورو ټکو لپاره عملیاتي پلان جوړ او ریاست ته یې استوي:

## درېیمه برخه

## د اعتبار ورکولو پروسه کې شاملېدل

### ۳،۱. د اعتبار اخیستلو د غوښتنلیک شرایط

۳،۱،۱. جامعاتو، پوهنتونونو او برنامو لخوا د اعتبار اخیستلو غوښتنلیک فورم او د شمولیت شرایط بشپړول.

۳،۱،۲. د مسؤلیت رفع کولو فورم ټولې برخې په بریالیتوب سره بشپړول او حداکثر د درې میاشتو په جریان کې ریاست ته سپارل.

۳،۱،۳. که د مسؤلیت رفع کولو فورم د درې میاشتو په جریان کې په بریالیتوب سره بشپړ نه شي، غوښتنلیک یې لغوه او د لغوې له نېټې څخه درې میاشتې وروسته نوی غوښتنلیک د اصولو له مخې وړاندې کولای شي.

۳،۱،۳. جامعات او پوهنتونونه چې یوه مرحله یې په بریالیتوب سره بشپړه کړې وي، د اوسنۍ مرحلې د ترلاسه کولو له نېټې حداقل شپږ میاشتې وروسته د بلې مرحلې لپاره غوښتنلیک وړاندې کولای شي.

### ۳،۲. د غوښتنلیک او مسؤلیت رفع کولو فورم تحلیل او بشپړول

۳،۲،۱. که د جامعې، پوهنتون او برنامې د اعتبار اخیستلو یوې مرحلې لپاره د غوښتنلیک له سپارلو وروسته د مسؤلیت رفع کولو فورم د درې میاشتو په موده کې په بریالیتوب سره بشپړ او ریاست ته وسپاري، د پوهنتون د غوښتنلیک ارزونې بهیر رسماً پیل کېږي.

۳،۲،۲. د کیفیت د تضمین آمریت، د پوهنتون غوښتنلیک او مسؤلیت رفع کولو فورمې په یوه اونۍ کې تحلیلوي.

۳،۲،۳. که د اعتبار اخیستلو مرحلې لپاره د غوښتنلیک فورم وضاحت ته اړتیا ولري، ریاست له اړوند مراجعو څخه معلومات ترلاسه کوي.

۳،۲،٤د جامعې، پوهنتون او برنامې غوښتنلیک د شرطونو له بشپړېدو او تحلیل وروسته د بورډ له خوا تائیدیږي .

۳،۲،٥. د غوښتنلیک له تائید څخه وروسته جامعه، پوهنتون او برنامه د ځان‌ارزونې راپور حد اکثر د درې میاشتو په موده کې بشپړ او ریاست ته سپاري.

۳،۲،٦. که جامعه، پوهنتون او برنامه د اعتبار اخیستلو غوښتل شوي مرحلې ته د شاملېدو له خبرتیا وروسته په درې میاشتو کې د ځان‌ارزونې راپور ریاست ته ونه سپاري، غوښتنلیک یې لغوه کېږي.

### ۳،٤. د ځان ارزونې پروسه

د ځان ارزونې په پروسه کې لاندې ټکي په پام کې نیول کېږي.

۳،٤،۱. د کیفیت لوړاوي اصلي کمیټې لخوا د ځان ارزونې راپور چمتو کولو مهال وېش ترتیب او د پوهنتون د علمي شورا په مجلس کې تائیدول.

۳،٤،۲. د مهال وېش مطابق معاونیتونه، پوهنځي، څانګې او مستقل آمریتونه د اړوند شاخصونو په اساس د ځان ارزونې راپور چمتو او د کیفیت لوړاوي اصلي کمیټې ته یې سپارل.

۳،٤،۳. د کیفیت لوړاوي اصلي کمیټه د اړوندو برخو څخه ترلاسه شوي د ځان اروزنې راپورونه تحلیل،توحید او تائیدول.

۳،٤،٤. د ځان‌ارزونې راپور وروستۍ نسخه د پوهنتون علمي شورا ته د منظورۍ لپاره وړاندې کول.



۳،٤،٥. د پوهنتون او جامعې د علمي شورا له لورې د ځان ارزونې منظور شوی راپور او اړونده رسماً ریاست ته استول.

۳،٥. د ریاست لخوا د پوهنتون د ځان ارزونې راپور د ترسراوي مرحلې

۳،٥،۱. د کیفیت د تضمین آمریت، د پوهنتون د ځان ارزونې راپور په یوه اونۍ کې تحلیلوي.

۳،٥،۲. که د ځان ارزونې راپور وضاحت ته اړتیا ولري، ریاست له اړوندو مراجعو څخه معلومات ترلاسه کولای شي.

۳،٥،۳. د کیفیت د تضمین آمریت د ځان ارزونې راپور د تحلیل پایله د بورډ په اجندا کې شاملوي، ترڅو د چمتوالي څخه د لیدنې پلاوی وټاکي.

۳،٥،٤. بورډ د ځان ارزونې راپور له تائید وروسته د چمتوالي څخه د لیدنې پلاوی ټاکي.

## شلورمه برخه

### د جامعې، پوهنتون او برنامې د چمتوالي څخه لیدنه

٤،۱. د چمتوالي څخه د لیدنې پروسه او نومرې:

٤،۱،۱. د چمتوالي څخه لیدنه د بورډ د پریکړې له مخې، د اعتبار ورکولو د معیارونو پربنسټ د یوې میاشتې په موده کې ترسره کیږي.

٤،۱،۲. د چمتوالي څخه د لیدنې پلاوی خپل راپور بشپړوي او په بورډ کې د تحلیل په موخه ریاست ته سپارل کیږي؛

٤،۱،۳. که راپور وضاحت ته اړتیا ولري، د اصلاحاتو او معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د چمتوالي څخه د لیدنې پلاوي سره شریکیږي.

٤،۱،٤. د چمتوالي څخه د لیدنې راپور پایله، د بورډ له تایید وروسته اړوند جامعې، پوهنتون او برنامې سره په رسمي توګه شریکیږي.

٤،۱،٥. د پایلې له ترلاسه کولو وروسته د جامعې، پوهنتون او برنامې لخوا په لسو کاري ورځو کې ریاست ته د کمزورو ټکو د اصلاح لپاره عملیاتي پلان سپارل کیږي.

٤،۱،٦. د ټاکل شویو معیارونو له چوکاټ سره سم، په لومړۍ مرحله کې ۷۰، په دویمه مرحله کې ۸۰ او په دریمه مرحله کې ۹۰ سلنه نومرې او د هر معیار لپاره ټاکل شوې سلنه ترلاسه کړي.

٤،۱،۷. که جامعه یا پوهنتون د اړونده مرحلې لپاره د چمتوالي څخه لیدنه کې د ټاکل شوې سلنې حداقل نومرې ترلاسه کړې وي، او په ټاکلې موده کې عملیاتي پلان ریاست ته سپارلی وي د بورډ د پریکړې پر اساس د نهایي لیدنې لپاره یې پلاوی ټاکل کیږي؛

٤،۱،۸. که جامعه یا پوهنتون د ټاکل شوې سلنې څخه (٪۱۰) کمې نومرې تر لاسه کړي، د کمزورو ټکو د اصلاح کولو لپاره پینځه میاشتې مهلت ورکول کیږي،

٤،۱،۹. که جامعه یا پوهنتون په ټاکلې موده کې د خپلو کمزورو ټکو د اصلاح په اړه ریاست ته ډاډ ورکړي، د اړوند مرحلې لپاره پرته له دې چې د چمتوالي څخه لیدنه یې بیا ترسره شي، د نهایي لیدنې پلاوی معرفي کیږي.

Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۴.۱.۱۰. که جامعه یا پوهنتون په ټاکلې موده کې د خپلو کمزورو ټکو د اصلاح په اړه ریاست ته ډاډ ور نه کړي، پروسه یې لغوه او د پایلې ترلاسه کولو څخه شپږ میاشتې وروسته، د یادې پروسې غوښتنلیک بیا په اصولي ډول ترسره کولای شي.

## ۴.۲ د چمتوالي څخه د لیدنې پلاوی

۴.۲.۱. د چمتوالي څخه د لیدنې پلاوی د ریاست له لوري تعین او د بورډ له خوا تاییدېږي.

۴.۲.۲. که د بورډ له خوا تائید شوي پلاوي کوم غړی د ټاکل شوې لیدنې لپاره چمتو نه وي، ریاست کولی شي پر ځای یې بل شخص وټاکي.

۴.۲.۳. د پلاوي د غړو شمېر د جامعې او پوهنتون د پوهنځیو او څانګو د شمېر له مخې ټاکل کېږي.

۴.۲.۴. د ریاست کارکوونکي د لیدنې پر مهال د لیدونکي په توګه د پلاوي غړیتوب لري.

## ۴.۳. د چمتوالي څخه د لیدنې موده:

د چمتوالي څخه د لیدنې او راپور لیکلو موده د جامعې او پوهنتون د پوهنځیو او څانګو د شمېر او کاري حجم له مخې په لاندې ډول ټاکل کېږي:

۴.۳.۱. د چمتوالي څخه د لیدنې موده حداقل دوه ورځې او حداکثر د جامعې او پوهنتون جوړښت له مخې ټاکل کېږي.

۴.۳.۲. د چمتوالي څخه د لیدنې راپور لیکلو موده حداقل یوه ورځ او حداکثر د کار حجم ته په کتو ټاکل کیږي او ریاست ته سپارل کېږي.

۴.۳.۳. پورته د (۲.۱)شمېرې کې ټاکل شوې موده ولایتونو ته د تګ او راتګ ورځې نه حسابیږي.

یاداښت : په دغه لارښود کې ذکر شوې ملپانې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو ریاست په ویب پاڼه(www.qaad.edu.af)کې د لاسرسي وړ دي

**یاد لارښود په (۴) برخو،(۱۹) عناوینو او (۵۹) مواردو کې ترتیب شوی دی، چې د منظورۍ د نېټې څخه وروسته د تطبیق وړ دی.**

د اعتبار ورکولو پروسې ته د شاملېدو لارښود د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو ریاست د بورډ له لوري په (۳۹) ګڼه، ۱۴۰۳/۱۰/۲۵نېټې پریکړې او د لوړو زده کړو وزارت د علمي معینیت له لوري په (۳) ګڼه، ۱۴۴۷/۳/۲۱نېټې پریکړې له مخې تایید شوی دی. یاد لارښود په امارتي او خصوصي پوهنتونونو کې د تطبیق وړ دی.